بېشکه دار و مدار د عملونو په نيتونو سره دی، او د هر انسان لپاره هغه څه دي چې هغه يې اراده کړې وي

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «دار و مدار د عملونو په نيت سره دی او هر انسان ته يوازې هغه څه حاصل دي چې د هغه نيت يې کړی وي، نو د چا هجرت چې د الله او د هغه د رسول لپاره وي، نو هجرت يې د الله او د هغه د رسول لپاره دی، او د چا هجرت چې د دنيا لپاره وي تر څو يې تر لاسه کړي، او يا د ښځې لپاره چې نکاح يې کړي، نو هجرت يې د هغه څه لپاره دی چې نيت يې کړی وي» او د بخاري الفاظ داسې دي: "«بېشکه دار و مدار د عملونو په نيتونو سره دی، او د هر انسان لپاره هغه څه دي چې هغه يې اراده کړي وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې هر عمل ته اعتبار په نيت سره ورکول کيږي، او دا حکم په ټولو عملونو کې عام دی، خواه که عبادات وي او يا معاملات، نو چا چې په خپل عمل سره د کومې ګټې اراده وکړه، نو له هغې ګټې پرته ورته بل څه نشته او ثواب يې هم نه کيږي، او چا چې په خپل عمل سره الله تعالى ته د نږدې والي اراده وکړه نو په عمل به يې اجر او ثواب تر لاسه کړي که څه هم هغه يو عادي عمل وي، لکه خوراک او څښاک. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په عملونو کې د نيت اغيزه داسې بيان کړه چې سره لدې چې په ښکاره به عملونه سره يو شی وي، خو چا چې په هجرت او وطن پريښودلو سره د الله د رضا اراده وکړه، نو هجرت يې شرعي او د الله تعالى په نېز قبول شوی هجرت دی او د نيت د اخلاص له امله ورته ثواب ورکول کيږي، او چا چې په هجرت سره د دنيوي ګټې اراده وکړه، نو له هجرت څخه يې له همغې ګټې پرته چې نيت يې کړی وي بل څه په لاس نه راوړي او هېڅ اجر او ثواب ورته نشته.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4560